افغانستان
پښتو

# ERRIN
# د بیرته را ستنېدونکو لپاره
## د بیا مېشته کېدني پروګرام

european return and reintegration network

Co-funded by the Asylum, Migration and Integration Fund of the European Union

Migration in Action
Migratie in Beweging

## د ERRIN
## په اړه

### د کډوالو د بیرته راستنېدني او بیا مېشتنه کیدني لپاره یوه ګډه کړنلاره برابرول

د اروپا د بیرته را ستنېدني او بیا مېشتنه کېدني شبکه (European Return and Reintegration Network – ERRIN) د ۱۵ هیوادونو څخه جوړ یوه اتحادیه ده چي د ټولو هغه کډوالو د بیرته را ستنېدني او بیا مېشته کېدني لپاره سهولتونه برابروي، کوم چي نشي کولای او یا هم نه غواړي نور اروپا کي پاته شي. یاده شبکه د هغه کډوالو لپاره چي بیرته خپل هیواد ته ستنیږي، د لازمو اړتیاوو لکه رواني مشورې ورکول، خدماتو ته راجع کول او همدارنګه د بیرته مېشته کیدني په برخه کي د یادو کډوالو سره په افغانستان کي همکاري کوي. -

ددې پروګرام تر چتر لاندي، IRARA د یوه قرارداد کوونکي په صفت، د ټولو هغه راستنېدونکي کډوالو سره چي په داوطلب یا غیر داوطلب ډول خپل هیواد ته ستنیږي، د بیا مېشته کېدني په لمړنیو ګامونو کي مرسته کوي.

ERRIN د اروپایي اتحادیي د پناه غوښتني، مهاجرت او مېشتنه کېدني وجهی صندوق (AMIF)، او ګډه ملي اداری لخوا په مالي ډول حمایه کیږي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره: www.returnnetwork.eu

## د ERRIN
## همکار هېوادونه

اروپایي همکاری اداري

| | |
|---|---|
| اتریش | د کورنیو چارو فدرالي وزارت |
| بلجیم | د پناه غوښتني فدرالي دفتر |
| ډینمارک | د کډوالۍ او بیا مېشته کېدني وزارت |
| فینلنډ | د فیلینډ د کډوالۍ خدمات |
| فرانسه | د کورنیو چارو وزارت، د کډوالۍ او بیا مېشته کېدني دفتر |
| جرمني | د کورنیو چارو فدرالي وزارت، د کډوالۍ او پناه غوښتونکو دفتر |
| یونان | د کورنیو چارو او اداري بیا رغوني ریاست |
| لوګزامبورګ | د بهرنیو او اروپایي چارو وزارت |
| مالتا | د کورنیو چارو او ملي امنیت وزارت |
| نیدرلینډ | د عدالت او امنیت وزارت |
| ناروی | د ناروی د کډوالۍ ریاست |
| هسپانیه | د ټولنیز امنیت وزارت، د مهاجرت څانګه |
| سویډن | د مهاجرت اژانس |
| سویټزرلینډ | د مهاجرت ریاستي دارالانشاء |
| بریتانیا | مرکزي دفتر |

## زموږ سره
## اړیکه

د IRARA دفتر د بیرته راستنېدونکو لپاره تر ERRIN پروګرام لاندي په کابل، هرات، مزار، کندهار، او ننګرهار ولایتونو کي دفترونه لري

## IRARA

موږ ستاسی مرستی ته چمتو یو!

آدرس: ۱۱۱ نمبر کور، قصابي ۱ کوڅه، حاجي یعقوب چهار راهي، کابل، افغانستان

+93 (0) 791444435
+93 (0) 202200502

afghanistan@irara.org

loc.afghanistan@irara.org

www.irara.org/afghanistan

https://fb.me/IRARAAFG

کاري ورځي: د یکشنبه څخه تر پنج شنبي پوري د سهار د ۰۸:۳۰ څخه د ماخیګر تر ۰۴:۳۰ پوري

IRARA

# آيا تاسو د مرستو د تر لاسه کولو لپاره په شرايطو برابر ياست؟

که چيري تاسي د افغانستان تابيعت لرونکی ياست، او غواړي چې د ERRIN ملګرو هيوادونو کې د يو هيواد څخه بيرته را ستانه شئ (د هيوادونو نومونه مخکې ذکر شوي)، نو تاسي ممکن ددې پروګرام څخه مستفيد شئ.

راستانه کېدونکي اشخاص کېدای سي داوطلب يا غير داوطلب وي، او د هر عمر لرونکي وي، ممکن دوئ د لاندي ډلو څخه يو وي:

- پناه غوښتونکي
- هغه چي د پناه غوښتلو درخواست يې رد شوی وي
- منظم او غير منظم مهاجر
- بی سرپرسته ماشومان
- نور زيان منونکي اشخاص

د خدماتو څخه د برخمن کېدلو لپاره د همکار هيواد د مسؤلينو تائيد مهم دئ، او د بيا مېشته کېدني مرستی يوازي په هغه صورت کې وړاندي کيدلای سي چې کله اړوند مسؤلينو ددې شخص درخواست منلی وي.

که چيري تاسي د ERRIN همکار هيوادونو کې د يو څخه راستانه شوي ياست، او تر اوسه مو د بيا مېشته کېدني خدماتو ته رجوع نه وي کړې، ممکن تاسي اوس هم پر شرايطو ورته برابر ياست، مهرباني وکړئ د IRARAدفتر سره د لا زياتو معلوماتو لپاره اړيکه ونيسئ.

## څنګه کولای شئ درخواست وکړئ؟

تاسي کولای شئ چي د ERRIN همکار هيوادونو کې د اړوند يوه سره اړيکه ونيسئ، او نور معلومات د خپل اجتماعي کارمند يا مشاور څخه ترلاسه کړئ.

د بيا مېشته کېدني مرستو څخه يوازي هغه وخت برخمن کېدلای شئ، چې د ERRIN همکار هيواد څخه مو مثبت نظر او تائيد ترلاسه کړی وي.

که چيري تاسي مخکي لا افغانستان ته راستانه شوي ياست، تاسي کولای شئ چې د IRARA د محلي نماينده سره اړيکه ونيسئ (د اړيکي لپاره د هغه معلوماتو څخه استفاده وکړئ چې ددې فورم پر شا باندي ليکل سوي دي).

*په ياد ولرئ چې ددې شبکې هيوادونه په افغانستان يوازي د ERRIN له طريقه د بيا مېشته کېدني خدمات نه لري، ادا ممکن اينده کې تغير سي. د خپل مشاور څخه په دې اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.*

## کوم مرستی وړاندي کېدلای شي؟

د ERRIN پروګرام تر چتر لاندي، د يوه راستنېدونکي په توګه ممکن تاسي د راستنېدني او بيا مېشته کېدني د هغه ځانګړو خدماتو لپاره پر شرايطو برابر ياست کوم چې ستاسي سره هيواد ته د راستنېدو وروسته د ژوند پيلولو لپاره مرسته کوي.

دا خدمات په غير نقدي شکل وړاندي کيږي (يا بايد د خدماتو ډول مخکي مشخص شوی وي)، او دا خدمات ستاسي د راتګ د ځای، ستاسو پيژندګلوی او ستاسو اړتيا په پام کي نيولو پر اساس په بيلا بيلو ډولونو وړاندي کيږي.

## لاندي تګلاري تعقيب کړئ

### د بهرني هيواد څخه تر وتلو مخکي

که چيري ستاسي درخواست د ERRIN ملګري هيواد د مسؤلينو لخوا قبول شو، تاسي د IRARA (www.irara.org) څخه د نورو معلوماتو او هداياتو غوښتنه وکړئ، تر څو د لازم تدابيرو په نيولو کي ستاسي سره همکاري وکړي.

### کله چي تاسي خپل هيواد ته راورسيدلاست

IRARA تاسي ته لاندي مرستی برابرولای شي:

- د رارسېدلو پرمهال/هوايي ډګر کي تاسو ته ښه راغلاست ويل او تر خپل ځايه رسول
- د هيواد دننه د سفر لپاره کمک او همکاري
- موقتي استوګنځی
- د بيړنۍ صحي مرستي لپاره راجع کول
- نور لمړنی اړتياوي

## د بيا مېشته کېدني مرستی

د IRARA دفتر خپل امکاناتو او بوديجي ته په کتو تاسي ته په لاندي برخو کي مرستی وړاندي کوي:

- تولنيز، حقوقي او صحي ملاتړ
- د استوګنځی اوږد-مهاله ملاتړ
- د تعليم او ژبي زدکړه
- د دندي موندلو ملاتړ
- تخنيکي او مسلکي روزنه
- د کاروبار د پيل مرسته
- د زيان منونکو ډلو لپاره ځانګړی مرسته

## په اړه

**IRARA** په افغانستان کي له ډيره وخته شتون لري، او د ۲۰۱۷ کال راپديخوا يي د راستنېدونکو افغان کډوالو لپاره مرستی پيل کړي دي. IRARA په کابل، هرات، مزار، کندهار او ننګرهار ولايتونو کي د بيا مېشته کېدني مرکزونه لري.

د IRARA ټول مسلکي مشاورين د افغانستان تابيعت لرونکي دي، او دوئ د کډوالو په بيا مېشت کولو او هغوئ ته په لازمه مشوره ورکولو کي کاپي تجربه لري .